مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۱/۲۹

# پریدی

پریدی چی خوری شی د لمر وړانګی په شنیلو باندی
و کـړی الـوتنه بلبـلان په چمـــــــــنو بانــــدی

پریدی چی بـزګـر په کـرونـدو سـهـار کی و کـرځی
وکړی پیــرزوینــه وږو تـږو پـرګنـــو بانــــدی

پریــدی چی شــلیــدلی ګـریـوانونه ســره و ګنــډی
نیغی بیــا شــلمی شـــی په ســرونو پښـتنو بانــدی

پریــدی چی ژړا د یتــیمــانــو نـوره ختـــمه شـــی
کیـــدی ګل غـونچـی د شــهیدانو په قبــرو باندی

پریدی چی په جنګ مین د جنګ په اور کی وسوځی
ګونـدی لـړ خبـر شـی د جنګـونو په دردو بانـــدی

پـوه شـئ زورورو په ټـوپـک حــکمــرانـی نه شی
میـنه ده چی کړی به پاچا هـی د خـلـکو زړو باندی

پریــدی چی دا ســـتړی کلیوال غاړه په غاړه شـی
واخـلی د غـم پیــټي یو د بـل نه په اوږو بانــدی

جولای/۲۰۱۴/۱۲
تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ